**بسم الله الرحمن الرحيم**

**مطبوعاتي اعلاميه**

**د اشغال شوي كشمير ازادول فرض دي**

**روژه د بريا مياشت ده؛ نو پر ظالمو هندوانو يې د اسلام د ولكې د راګرځېدو مياشت وګرځوئ**



(ژباړه)

د هند دولت چارواكو، د ۲۰۱۷م د مې پر ۲۸ مه د اشغال شوي كشمير په ډېرو برخو كې د مجاهد قومندان، سبزار احمد بټ او يو بل شپاړس كلن مجاهد د شهادت پر وړاندې د اعتراض كوونكو د مخنيوي لپاره د روژې په مباركه مياشت كې د شپې په ګرځېدو بنديز ولګاوه. الله سبحانه و تعالی دې دواړو ته فردوس جنت په نصيب كړي. خو بيا هم زرګونه زړور مسلمانان د خپلو اتلانو په جنازه كې د ګډون لپاره د اسلامي احساساتو څخه ډكو نارو په ويلو سره د امنيتي ځواكونو پر وړاندې ودرېدل. پر دې سربېره د اشغال شوي كشمير مسلمانان له هغې ورځې ناارامه دي چې د ۲۰۱۶ كال د جولای پر ۸ مه يو ۲۲ كلن مجاهد «برهان واني» په شهادت ورسېد. ظالمو او اشغالګرو هندي پوځيانو دوی ډېر شمېر له ټيي كولو، وهلو ډبولو او ړندولو وروسته په شهادت رسولي.

**اې د پاكستان مسلمانانو!** اووه لسيزې كېږي چې په كشمير كې زموږ مسلمانان ورونه او خويندې د هندي اشغالګرو پوځيانو تر سخت ظلم لاندې دي. اويا زره مسلمانان شهيدان شوي او په څرګنده توګه ګڼ شمېر نور شهادت ته تيار دي. مګر بيا هم د باجوه نواز رژيم هندي هېواد، خبرو اترو او د اړيكو عادي كولو ته رابولي، ته وا دوی سوله او عدالت را وستلی شي. پوه شئ چې هندوان، مسلمانانو ته سوله نشي را وستلی، ځكه چې دوی مشركين دي، د دوی په اړه الله سبحانه و تعالی په خپل كتاب كې، چې په همدې مباركه مياشت كې نازل شوی، فرمايي:

**(لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا...)** (المائده:۸۲)

*ته به د مومنانو په دښمنۍ كې تر ټولو زيات سخت يهوديان او مشركان ومومې.*

پوه شئ چې دوی حتی د خپلو مختلفو ډلو لپاره عدالت نشي راوستی، د نورو دينونو هغه پيراون خو پر ځای پرېږده چې د هند په نيمه وچه كې ميشت دي. پوه شئ چې يوازينی وخت چې مسلمانان د هندوانو څخه په امن كې وو، هغه پر هند نيمه وچه، د مسلمانانو د واكمنۍ وخت و. هغه وخت به په هند نيمه وچه كې د نورو دينونو او مذاهبونو له پيروانو سره عدالت كېده، پرته له دې چې د دوی دين، حالت او اخلاقي سلوك په پام كې ونيول شي.

**اې د پاکستان د پوځ افسرانو!** موږ چې کله د اشغال شوي کشمیر پر مسلمانانو باندې د ظلم په اړه اورووا سترګې مو له اوښکو او زړونه مو له غوسې ډک شي.

موږ تاسې د ۱۰۹۹م کال د اګېسټ د میاشتې چې ۴۹۲هـ ق کال د رمضان له میاشتې سره سمون خوري، هغه تاریخي وینا دریادوو، کله چې د دمشق د قاضي ابو سعد الهروي، د صلیبي لښکرو له لوري د زرګونو مسلمانانو د ټولوژنې او د هغوی د سپېڅلو ځایونو ړنګولو په اړه کړې وه. په داسې حال کې چې له سترګو یې اوښکې روانې وې مسلمانان یې داسې ملامتول؛ تر ټولو ناوړه دا ده چې سړی له وسلې څخه دې پنا یوسي چې اوښکې د جګړې په هغه اور تويي کړي چې توري پرې تېرېږي.

موږ تاسې ته دریادوو چې تاسو د پاکستان د وسله وال پوځ مشري کوئ، هغه سپېڅلی او نیک پوځ چې د اسلام په نوم د ۱۳۶۶ د رمضان په ۲۷ مه چې د ۱۹۴۷ کال د اګېسټ له ۱۴ مې سره سمون لري، د ټولومسلمانو لپاره د یوې تګلارې په توګه یې بنسټ کېښودل شو. موږ دریادوو چې تاسو هغه ځواک یاست چې د پاکستان، بنګله دېش، اشغال شوي کشمیر، افغانستان او په خپله د هند مسلمانان چې شمېر یې تر نیم بېلیون اوړي، سره یو موټی کولی شئ، څو د هندوانو ظلم ختم کړي. موږ دا هر څه د روژې په مبارکه میاشت کې دریادوو، د اسلام د بریا، د بدر غزا، د مکې فتحې او پر هندو مشرکینو باندې ستاسو د سلف محمد بن قاسم د بریا میاشت چې په سیمه کې یې د پېړیو لپاره د اسلامي شریعت بنسټ کېښود.

**حزب التحریر ولایه پاکستان** پر تاسو غږ کوي، چې د اشغال شوي کشمیر د مسلمانانو د اوښکو د بدل اخیستلو لپاره چې د خپلو شهیدانو جسدونه یې د پاکستان په بیرغ کې تاو کړي دي، خپل مسولیت ادا کړئ! پر تاسو لازمه ده چې دوی ته د خپل ایمان، وینې، جګړې او وسلې پر مټ ځواب ورکړئ، تاسې پوهېږئ چې دوه د خوښۍ خبرونه؛ بریا یا شهادت تاسې ته په تمه دي.

د دغه کار لپاره لومړی ګام دا دی چې د باجوه نواز رژیم د ځنځیر کړی چې تاسو یې مهار کړي یاست، ماتې کړئ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره د خلافت د تاسیس لپاره، حزب التحریر ته د جلیل القدر عالم سیاستوال او قانون پوه امیر «شیخ عطا بن خلیل ابو الرشته» تر مشرۍ لاندې، نصرت ورکړئ.

موږ تاسې رابولو او غږ درباندې کوو او له دغه کاره به هېڅ وخت ستړي هم نشوو، څو چې الله سبحانه و تعالی نصرت راکړي او موږ پر تاسو شاهدان کړي، ایا تاسو مثبت ځواب ورکوئ؟ راشئ په دې مبارکه میاشت کې د مومنانو پر زخمي زړونو ملهم ولګوئ او د روژې له مبارکې میاشتې څخه د کفر او کفارو پر وړاندې د بریا میاشت جوړه کړئ.

**(إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلاَ غَالِبَ لَكُمْ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِى يَنصُرُكُم منْ بَعْدِهِ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ)** (ال عمران:۱۶۰)

*که مو الله مرستندوی وي، هېڅ قوت نشي دربانډې برلاسی کېدی او که مو هغه پرېږدي، نو بیا له الله وروسته څوک ستاسو مرسته کولی شي؟ نو څوک چې ریښتینې مومنان دي، هغوی دې پر الله توکل وکړي.*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۳۸، د رمضان ۳ مه، د دوشنبې ورځ**

**۲۰۱۷، د مې ۲۹ مه**

**شمېره: PR17042**